# د خیرالبیان خطي نسخه

پروسږکال د استقلال د جشن په نندارتون کي د غربي المان د علمي او فرهنګي موسسو ځيني مهم کتابونه د نمایش له پاره راوړي وه، چي په هغو کي یوه خطي پښتو نسخه هم وه او دا نسخه له دې جهته مهمه وه چي یو خو د پښتو خورا قدیمه لیکلې نسخه ده او تر دغه بله زړه نسخه موږ ته نه ده معلومه.

دوهمه خبره دا ده چي له دغه کتابه یوازي دغه یوه نسخه اوس معلومه ده د بلي نسخې درك يې نه لرو.

د دې کتاب مړلف د پښتنو د ادب او توري او فکر مشهور رهنما او نابغه بایزید روښان دئ، چي په ۹۳۲ هـ د جالندر په یوه پښتني کورنۍ کي وزیږېدی او د ۹۸۸ هـ په حدودو کي په جنګ وواژه سو.

بایزید روښان د پښتو د نثر د لیکني د یوه مشهور مکتب یعني فني نثر موسس او استاد و، ده د پښتنو د آزادۍ په لاره کي جهادونه کول او د تصرف او تفکر په لړ کي هم عملاً د خاصي لاري خاوند و، نو د افغانستان په سیاسي او ملي او ادبي او فکري تاریخ کي لویه برخه لري.

پښتنو په تاریخي دوروکي په ایشیا کي لویي شهنشاهۍ جوړي کړي وې، خاص تمدن او فرهنګ یې راوړی و، مګر د دوی د ژوندانه بهیر د لسم قرن په شاوخوا کي ټپ درېدلی و، څو چي بایزید روښان پخپل فکري او سیاسي او ادبي نهضت سره بیا په دې بهیر کي د حرکت نوې ساه پو کړه او دا هغه مقدس ملي حرکت و، چي وروسته خوشحال خان او میرویس خان هم پسې وښوراوه، څو چي احمدشاه بابا له هغه څخه علمي نتیجه واخیسته او اوسنی افغانستان یې بیا ژوندی کړ او د غزنویانو او غوریانو داستان یې په کندهار کي نوی کړ.

د پیر روښان سیاسي او عسکري کارنامې ډېري لوړي دي خو د ده ادبي او فکري شخصیت هم نه هېرېدونکی دئ. د ده خیرالبیان د پښتو یو قدیم او غوره او واحد اثر دئ.

د خیرالبیان دغه نسخه چي اوس د غربي جرمني په ټوبنګن کي ده. یو وخت په لندن کي د سرډینسن راس مستشرق په لاس کي وه، دا سړی ډېر عمر په لاهور کي د شرقي کالج مدیر و او ښایي چي دغه نسخه یې په پنجاب کي موندلې وي. د دوهم جنګ په وخت کي دغه واحده خطي نسخه د ډینسن راس تر مرګ وروسته ورکه سوه او اوس دا دئ چي د غربي المان په یوه کتابخانه کي بیا مونده سوه.

د دې نسخې یو عکس ښاغلي بېنوا اخیستی دئ چي اوس دا دئ زما سره دئ او زه خیرالبیان پخپل اصلي رنګ کي ګورم.

دا نسخه تر دوهم جنګ دمخه د برلین د کتابخانې نمبر لري، ټوله (۳۳۰) مخه ده، خط یې نستعلیق دئ، هر مخ یې یوولس لیکي لري، په سرکي څورلس مخه د پښتو د رسم الخط او لیکدود رساله ده چي روښان د پښتو مخصوصو حروفو ته خاص اشکال مقرر کړي دي. نور حروف یې د پښتو د اوسني لیکدود په ډول دي خو (ځ) داسي لیکي چي تر دال لاندي یو ټکی ږدي او هره (ژ) هم د (ږ) په شکل ده لکه روږه، بږر، ږوندی چي اوس یې موږ پخپل اصلي شکل د محاورې سره سم روژه، ژر، ژوندی لیکو. مګر روښان یو ټکی لاندي بل باندي (ږ) فقط د (ژ) له پاره ټاکلې ده او د (ږ) له پاره یې یو دال لیکه چي په منځ کې ټکی درلود.

د خیرالبیان دغه خطي نادره نسخه په (۱۰۶۱ هـ) کال د ده یوه مرید فقیر بهار طوسي باتوني د بي بي خیر خاتون له پاره کښلې ده، او داسي ښکاري چي د روښان تابعان او مریدان تر دغه وخته لا هم وه او دوی به د خپل رهنما او پېشوا خیرالبیان لوست.

خیرالبیان په څلور ژبي دئ، اکثره برخه یې پښتو ده او عربي جملې او مقولې هم لري چي د هغه ترجمه

په فارسي کښله سوې او د کتاب په ابتدايي برخو کي ځيني جملې د شمالي پنجاب په لهجه هم سته او ارزاني د روښان يوه مريد همدغه مطلب داسي بيان کړی و :-

د فقـــــــير پښـــتو دېوان دئ
دا دېوان حـــــقاني خوان دي
دی ريخـــــــته په څـــــلور ژبي
دی بيان په څـــــو الــــوان دئ
دا کلام د هـــــــــــغه دل دئ
چي د عشـق پر اور بريان دئ

دولت وايي :-

په څلور لفظه يې خيرالبيان روغ کا
موافـــــق شو په آيات په حـــــديثونه

خيرالبيان په پښتو نثر کي قديمتر کتاب دئ او داسي ښکاري چي روښان دغه کتاب د فارسي ژبي د متصوفينو او خاص د خواجه عبدالله انصاري د طبقات الصوفيه او د شيخ عطار د تذکرۀ الاولياء په پيروي مسجع ليکلی و، چي وروسته اخوند درويزه خپل مخزن الاسلام او اخوند قاسم خپل فوائدالشريعت او ځينو نورو ليکوالو هم د ده پيروي کړېده.

خيرالبيان د پښتو ځيني غوره کلمات د فارسي او عربي په مقابل کي لري چي د ادبي لحاظه ډېر د غور وړ دي.

مثلاً د عدد او شمار په مقابل کي کرنده استعمالوي، د شرعي اصطلاح امر او نهي په معني (کړمکړ) راوړي چي ډېره ښه کلمه ده، نور ځيني پښتو کلمات يې داسي دي :-

| | |
|---|---|
| سامع = نغوری | آهنين = اسپرين |
| رحمت = ښېگړه | مسين = سرولين |
| عکسريت = نورکښ | فطر = کښايل |
| شباني = پوندگلی | مجامعت = سروت |
| جنگ = نښت | طعام = اتام |
| زنا = کاسيري | مسجد = نمزدك |
| معرفت = پېژندگلي | پس خورده = پريسون |
| حکم و معروف = درمندن | فضيله = زوغل |
| اسباب و متاع = کالي | عظمت = ستروی |
| اول = وړمی | تحريك = نغوته |
| طريقه = رده | هوا و خواهش = غوښت |

د خيرالبيان دغه نسخه په ادبي پلټنه او د پښتو د سبکشناسۍ په څېړنو کي ډېره مغتنمه نمونه ده او که څوك په پښتنو کي د فکر او تصوف د تاريخ مطالعه کوي يا د ملي حرکاتو جرړي پلټي نو هم خيرالبيان د دوی له پاره يو بهترين سند او د معلوماتو چينه کېدای سي[1].

---

[1] کندهار مجله، اتمه گڼه، ۲ مخ، ۱۳۴۳ ش.